جمهـــوری اسلامـــی افغـــانستان
دار الانشای کمیسیون مستقل انتخـــابات
ریاست روابط خـــارجه

دافغانستـــــان اسلامـــــی جمهوریت
د ټـــاکنو خپلواک کمیسیون دار الانشاء
د بهرنيو اړيکو رياست

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission Secretariat
External Relations Department

# د ټاکنو خپلواک کمیسیون مطبوعاتي اعلامیه
# د ولسي جرګې کاندیدانو د نوم ثبتونې پروسې د پرمختګونو په اړه
## (۱۳۸۹ کال د ثور ۹)

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د خپل ټاکنیز مهال ویش له مخې، د ۱۳۸۹کال د سنبلې د ۲۷ نېټې ولسي جرګې د ټاکنو لپاره ټول لازم چمتوالی لري ، او دا مهال د ۱۳۸۹ کال د ولسي جرګې د کاندیدانو د نوم ثبتونې د پروسې د تطبیق په درشل کې قرار لري ، چې دا بهیر به د ۱۵ ورځو لپاره د حمل له ۳۱ نېټې پیل او د ثور تر ۱۵ نېټې پورې به د یوې ورځې په غزولو سره دوام ومومي .

پدې پړاو کې درخواست کوونکي خپله د کاندیدانو د نوم ثبتونې مرکزونو ته د هغو لازمو بشپړو شویو فورمو سره چې د کاندیدانو دنوم ثبتونې په کړندود کې ترې یادونه شوې د کمیسیون ولایتي دفترونو ته مراجعه کوي . باید وویل شي چې وروسته له نن (پنجشنبه د ثور له ۹) مې نیټې څخه، د ولسي جرګې د کاندیدانو د نوم ثبتونې د بهیر ۶ کاري ورځې وخت پاتې دی، چې نور هیڅ ډول تغیر او تمدید به پکې رانشي .

تر دې دمه د ولسي جرګې د نوم ثبتونې د مرکزونو څخه د تر لاسه شویو معلوماتو پر بنسټ (1024) تنه په ټول افغانستان کې د کمیسیون سره ثبت شوي دي ، چې د هغې له ډلې څخه (۱۵۰ ) تنه یې ښځې او (۱۳ ) تنه یې کوچیان جوړوي .

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د هغه ټاکنیز مهال ویش پر بنسټ چې وار له مخه اعلان شوی د ثور له (۲۲ تر ۲۸) پورې موده کې به د ولسي جرګې د کاندیدانو لومړنی لست برابر او رسما به یې خپور کړي، د کاندیدانو د لومړني لست له اعلان وروسته به د تصحیحاتو او اعتراضونو پړاو په رسمي توګه پیل شي او د روان کال د جوزا د میاشتې تر ۲۰ مې نیټې به دوام و مومي . پدغه موده کې به احتمالي کاندیدان د دې فرصت ولري چې د دوی په اړه د هغو ناسمو معلوماتو د سمونې رسمي غوښتنه د ټاکنو خپلواک کمیسون څخه وکړي چې په ابتدایي لست کې یې کټلي وي .

همدارنګه د اعتراضونو په مرحله کې، رای ورکوونکي او نورې اړونده خواوې به د دې فرصت ولري چې په لست کې د شاملو کاندیدانو په شرطونو د پوره والي په اړه خپل قانوني اعتراضونه رسما د اعتراضاتو د هغو فورمو په بشپړولو سره چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون په ولایتي دفترونو کې د لاس رسي وړ دي د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون په عنوان د ټاکنو خپلواک کمیسیون په ولایتي دفترونو کې او یاهم مستقیما د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د دفتر سره ثبت کړي .

باید وویل شي، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رای ورکوونې په شرطونو برابرو کسانو، کاندیدانو او سیاسي ګوندو د څارونکو څخه غوښتنه کوي چې د کاندیدانو په شرایطو برابر والي باندې د اعتراضاتو په پړاو کې فعاله ونډه واخلي او موږ سره د ولسي جرګې د کاندیدانو د نوم ثبتونې د پروسي په بهبود کې مرسته او همکاري وکړي .

**<u>د لازیاتو معلوماتو لپاره لاندی په لاندی پته اړیکه ونیسئ :</u>**

محترم نور محمد نور
د ټاکنو خپلواک کمیسیون ویاند
**د اړیکي شمیره : ۰۷۰۷۱۸۶۱۵۹**
**ادرس پست الکترونیکي :** noormohammad.noor@iec.org.af